# امپریالیزم

د ځـوانـانو لپاره

لیکنه: محمد رضا قرباني
پښتو ژباړه: خسرو ګلسرخي



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یـــادونـــه

ملګرو! ياد كتاب چې د ايراني ملګري ښاغلي محمد رضا قرباني لخوا په ۱۳۵۹ كال كې كښل شوئ دی؛ د هغو ځوانانو او كسانو لپاره چې د لومړي ځل لپاره غواړي د ماركسيستي ادبياتو په ځانګړي ډول د ماركسيستي سياسي اقتصاد سره بلدتيا ومومي،خورا ګټور تماميږي. همدارنګه ياد كتاب د سياسي اقتصاد د پيچلو مسائلو او د زياركښانو د لومړي مشر ملګري ماركس په[كپيټال] نومې كتاب باندی د لاښه پوهېدو په موخه نسبتاً اغېزمند تمامېدئ شي او دا چې يادكتاب د ډېر ساده او هوسا متن لرونكی دی نو د هيواد ټولو ځوانانو بالخصوص هغوی ته چې غواړي په لومړي ګام كې خپل هيواد د امپرياليزم له وحشي جبره او په دويم پړاو كې د هيواد او نړئ زياركښـه طبقه د پانګې له ژغ ځخه وژغوري د علمي قطب نما پحيث ورته د لوستلو توصيه كوم.

البته په دې برخه كې يوې موضوع ته لنډه اشاره كوم؛ هغه دا چې په ياد كتاب كې د نرخ سود(د ګټې نرخ) اړوند يو ژوندی مثال وړاندي شوی دی خو په تاسف سره چې د مثال دويمه برخه له يو څه نيمګړتيا او تر كومه چې زه انګېرم له يو لړ حسابي ستونزو سره هم مخ ده چې د سمولو په موخه مې ډېره هڅه وكړه خو ونه توانېدم چې ياده برخه لكه څنګه چې بايد وي اصلاح كړم نو د همدې لپاره مې د ياد مثال په لومړئ برخه چې تر ډېره د متن مفهوم تر لوستونكو رسوي، بسنه وكړه...چې په راتلونكې كې به حتماً دا تشه له منځه يوسم...

د دې كتاب پورته مثبتو ځانګړنو ته په كتو سره وايم چې كه ملګرئ قرباني ژوندئ وي له همدې ځايه ورته سور سلام او كه له نړئ څخه يې سترګې پټې كړي وي نو پاک روح ته يې ډېر ډېر درودونه استوم...او په پای كې د ملګري لال پاچا پتنګ څخه په ټوله واقعي خلقي مينه مننه كوم چې د ياد كتاب د پښتو ژباړې په سمونې او تايپلو كې يې نه ستړې كېدونكې مرسته راسره وكړه...

خ – ګلسرخې

۱۳۹۹ كال

(c) ketabton.com: The Digital Library




سهار وختي د کلي خلک یو یو د خپل ورځني کار په موخه له خپلو کورونو څخه بیرون ته راوتل،هټیوالو د خپلو هټیو دروازې پرانیستلې او د میزونو تر شا د پیرېدونکو په تمه ناست ول.ښځې او ماشومان د وچې ډوډۍ د اخیستلو په موخه د نانوایي لور ته تلل او بیا د پنیر،شیدو او نورو اړتیا وړ توکو رانیولو لپاره د څو نورو هټیو لور ته چې هلته موجود ول،ورتلل.

په دې وخت کې سړۍ هم له کوره دباندې راووت،خو هغه بار چې د ده په اوږو ؤ، داسې معلومیده چې د سفر هوډ لري. د هغه خیره ټولو ته د پیژندلو وړ وه. کله چې هغوی د ده په اوږو بار ولید مخې ته راغلل او په ګډه سره یې وویل:له خیره؟

سړي ځواب ورکړ:د آزادۍ ښار ته ځم.

خلک چې له پخوا نه د دې ورځې په تمه ول خوښ او ترې را چاپیر شول او ده ته ئې د بریالیتوب هیله وکړه.

سړي د آسمان په لور وکتل، دا چې آسمان شین او ځلیدونکی ؤ نو نوموړي د رضایت په موخه مسکا وکړه، سر یې ښکته او پر خپله مخه روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو چې د هغه په لوري د مهرباني او امید نظر درلود څنګ ته شول او نوموړي ته یې لار پرانیستله.

سړي کلی شاته پرېښود او ځنګله ته ننوت خو له یو څه مزل وروسته ناڅاپه له یوه وږي لېوه سره مخ شو.



لېوه چې تیاره مړۍ ومونده ژبه یې په شونډو تېره کړه او وویل:اې ځلمیه! ځان دې د مرګ لپاره تیار کړه،ځکه غواړم چې ودې خورم.

سړي:وویل ما څه کړي دي چې غواړې ومې خوري.

لېوه:تا کوم کار نه دی کړی خو زما خوی همداسې دی چې د لوږې په وخت کې انسانان او نور ځاروي ښکار او خپله ګېډه پرې مړه کړم.

سړي وویل: ته ډېر بې رحمه یې.

لېوه وویل: زما ګناه څه ده؟ زه لوږې بې رحمه کړی یم.

سړي وویل: خو زه داسې یوه هیله لرم چې باید ورته ورسېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېوه وویل: هغه هیله څه ده؟

سړي وویل: آزادئ ته رسېدل.هو زه غواړم چې د آزادئ ښار ته ورسېږم او خلکو ته آزادئ راونیسم.

لېوه وویل: اوس چې داسې ده نو زه په یوه شرط ستا له خوړو څخه ډډه کوم او هغه دا چې زما لپاره به هم آزادئ رانیسې، که دا کار وکړې زه په آرامه سره کولئ شم چې پرته د شپانه او د هغه د سپیو له وېرې د مږانو په رمه حمله وکړم.

سړي قول ورکړ چې لېوه ته به آزادئ اخلي او بیا یې خپله لارونیوه،لمر د ونو له ښاخونو خپله رڼا ځلولوه.د سړي د ګامونو غږ د مرغانو په آوازونو کې ورکیده.نیمه ورځ وه چې ستړی او ستومانه د ونو په منځ کې د دمې لپاره کښېناست،ډوډئ او پنیر یې نوشیجان کړل،را ولاړ شو او خپله لاره یې ونیوله چې ناڅاپه هوسئ مخته ورغله.



هوسئ وویل:ته هماغه سړئ یې چې د آزادئ ښار ته ځې؟

سړي ځواب ورکړ: هو. خو ته له کومه پوهېږې؟

هوسئ وویل: هغه مرغه چې سره ملګري یو دا خبره تر ما راورسوله.

سړي وویل: مرغه له کومه پوه شو؟

هوسئ وویل: له لېوه سره یې ستا خبرې اوریدلي دي.

سړي نورې خبرې ونه کړې او څرنګه یې چې غوښتل حرکت یې وکړ،هوسئ ورته وویل،وعده راکوې چې ما ته به هم آزادئ اخلې؟ سړي د هوسئ غوښتنې ته پام ونه کړ،هوسئ ورته وویل هماغه لېوه چې تا سره یې خبرې کولی زما آزادئ یې سلب کړي او زما ژوند یې تریخ کړی. زه د هغه د نه خوشي کېدو په موخه آزادئ غواړم.

د سړي زړه د هغې په حال وسوځیده او قول یې ورکړ چې آزادئ به ورته اخلي او خپلې لارې ته یې دوام ورکړ.

د لمر لوېدو په وخت د ځنګله پای ته ورسېده، آسمان پاشلو ورېځو نیولی ؤ په سختئ سره یې د تپې سرته ځان ورساؤ.

ښار په ښه توګه سره ښکارېده، بار یې په ځمکه کېښود او خپله کېناست تر څو لږ آرام وکړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له یوځه مودې کله چې تیاره شوه پاڅیدو او له تپې نه د ښار په لور وخوځید،د ښار مغازې یوه په بله پسې بندیدلې او په لارو کې تګ راتګ کمېدو.



له کړکیو د څراغونو رڼا له ورایه بریښیده.سړي له یوه لاروي نه وپوښتل:چیرته کولۍ شم چې آزادۍ وپېرم؟ لاروي ځواب ورکړ،ټول دکانونه یې لري.

بل سهار په داسې حال کې چې درې بستې یې په لاس کې وې د خپل ښار په لور روان شو.آزادۍ مخکې له مخکې بسته بندي شوي وې،یوه بسته یې د ځان او خپلو ښارمندانو لپاره، یوه د هوسۍ او بله هم د لېوه لپاره وه.ځنګله ته ننوت له ونو ورتېر شو او هغه یې غوټه غوټه تر شا پریښودې ورسته له ډېر پلي مزل څخه تر هوسۍ ورسېدو.یوه بسته یې هغې ته ورکړه.




لاره کې لېوه هم خپله د آزادۍ بسته ترلاسه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له هغې په ډېرې چټکۍ سره یې د خپل ښار په لور ګامونه واخیستل او ښار ته ورسېده،یو ځلې د کور په لور لاړ کړکۍ او ورونه یې وتړل ترڅو د بستې د سر په خلاصولو سره آزادۍ ونه تښتي له ډېرې لیوالتیا وروسته یې د بستې سر خلاص کړ.ګوري چې یو مرغه له بستې را بهر او په پنجرې کېناسته،سړی ګوته په غاښ شو چې دا اوس څه ډول آزادی ده؟



مرغه په خبرو شو او ویې ویل:دا ته دې آزادي پسې ګرځې،خو هغه ښار ته چې ته تللی وې او ستا په خیال چې آزادي دې را ونیوله هغه هم د دې هیواد یو ښار دی. که هلته آزادي وی نو دلته به هم وه خو دا چې په ښارکې مرغه ته آزادی ویل کېږي او هلته مرغان هم ډېر دي نوم یې د آزادۍ ښار ګرځیدلی او بل دا چې ګرانه دوسته آیا آزادۍ د پیرلو وړ ده؟


سړي وویل: آیا له دې پرته بله لار هم شته؟

مرغه وخندل او ویې ویل: اول خو دا ووایه چې ته د څه لپاره آزادۍ غواړې ترڅو زه هم دا درته ووایم چې څنګه باید تر آزادۍ ورسیږې.

سړي وویل:غواړم چې هغه خلکو ته ورکړم ترڅو له پانګوالو ونه ډار شي او آزادانه هر هغه څه چې وغواړي ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریښتیا دا چې زموږ د هیواد خلک په ځانګړي ډول هغوی چې کارخانو کې کار کوي، سره له دې چې له سهاره تر ماښامه زیار باسي خو بیا هم ډېر بې وزله او وږي دي. سرې خبرې غوټې کړې او د پنجرې لور ته راغی،پنجره یې پرانیستله او مرغه ته یې وویل هغه دودونه وینې؟



مرغه وویل: هو.

سرې وویل: هغه د کارخانې دودونه دي. د ډېرو کارګرانو کورونه چې کنډوالو ته ورته دي همالته دي د آولادونو  لوبغالي یې په خاورو او چټلیو کې دي. هغوی سره د ټولو زخمتونو چې ګالي یې بیا هم تر ټولو نادراه او بې وزله دي.خو د کارخانو خاوندان پرته له کوم زیاره د ښو ماڼیو او سترو حویلیو لرونکي دي؛ ښه خواړه خوري او ګران بیه مشروبات څښي لنډه دا چې ټول ژوند په عیاشۍ او خوښۍ کې تیروي. دوی سره له دې چې ځانونه د کارخانو خاوندان ګڼي د هیواد په ټولو چارو کې هم برلاسي دي.مثلاً یو له دغو پانګوالو څخه د هیواد ولسمشر هم دی چې هیڅوک یې په وړاندې خبرې نه شي کولای هو ګرانه مرغه! ما آزادي اخیسته تر څو یې زیارکښې طبقې(کارګرانو)ته وسپارم چې آزادانه خپل رنځونه او غوښتنې بیان کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه وویل: هماغسې چې آزادئ پېرل کېږي نه ورکول کېږي هم نه! آزادئ باید ترلاسه شي.د آزادئ لپاره باید شعوري مبارزه ترسره او وینه ورکړل شي.لنډه دا چې د دې هیواد خلک به هله ریښتیني ازادئ او برابرئ ته ورسیږي چې له خپل هیواد نه د امپریالېزم لاسونه لنډ کړي.

سړي پوښتنه وکړه: دا امپریالېزم بیا څه شئ دی؟

مرغه وویل: امپریالیزم د امپریال نه اخیستل شوی.امپریال یاني امپراطوري او د امپریالېزم مانا د امپراطورئ څخه ملاتړ کولو ته وایي.امپریالېست هم هغه هیواد یا شخص ته ویل کېږي چې د امپراطورئ پلوی وي. د امپراطورئ نه موخه دا ده چې یوه حکومت ډېرې سیمې لاندې کړې وي او د هغو سیمو ملتونه دې ته اړ باسي تر څو د حاکم حکومت تابع واوسي.نو په دې آساس د امپریالیزم ساده مانا په نورو هیوادونو یرغل او نړیوال توب دی.امپریالېزم هغه مار ته ورته دی چې زرګونه سرونه لري پداسې حال کې ټول پوهیږي چې داسې کوم مار شتون نه لري خو زه دلته ځینې وختونه د امپریالېزم پرځای د زرسري مار یادونه کوم.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د دې لپاره چې کله کله وکولۍ شو د امپریالیزم اړوند په هوسا توګه سره خبرې وکړو.اوس راځو اصلي موضوع ته.

زر سرۍ مار(امپریالیزم)په لومړیو کې زر نه بلکه د سرونو شمېر یې له سلګونو هم کم و. هر څومره چې یې عمر اوږدیده او ستریده د سرونو شمېر یې هم ورسره ډېریده؛ چې بالاخره په انګلستان کې د مار د سرونو شمېر تر زرو ورسېده کله چې مار زر سرۍ شي په دې مانا چې زوړ شوی او د ژوند وروستۍ پړاو تېروي.


سړي وویل: منظور دې دا دی چې زر سرۍ مار هغه مار دی چې زوړ شوی یاني امپریالېزم د پانګوالۍ(سرمایه دارۍ)وروستۍ پړاو دی؟

مرغه وویل: هو د مار نه یې موخه پانګوالي او له زر سري مار څخه موخه امپریالېزم دی، نو کله چې پانګوالۍ وده وکړي په پای کې خپل وروستي پړاو(امپریالېزم) ته ګام ور اخلي. دلته ده چې پانګوالۍ نوره زړه او مرګ ته نږدې شوي ده.

سړي وویل: کولی شې چې د زر سري مار تړوله کیسه راته وکړې؟


مرغه وویل: ما هم همدا غوښتل؛ آلبته که زغم یې ولرې. دا کیسه خوله په خوله زموږ له پلرونو او میندو تر موږه را رسیدلې ده.

ول نه ول زما او ستا پرته نور ډېر څېزونه ول؛ پدې څمکه ډېرۍ هیوادونه شته چې هلته هم مارونه شتون لري، خو هغه وخت یو یې هم زر سرۍ نه و ترڅو چې له دې ډلې څخه په یوه هیواد کې د مار سرونه ډېر شول،آلبته تر زرو ونه رسېدل خو نور څه پاتې نه وو چې د زرو خاوند شي د دې هیواد خلک ډېر بې وزله ول کله چې به د له هغوی نه پوښتنه وکړه چې ولې ناداره او بې وزله یاست په ځواب کې به یې ویل: زموږ قسمت همدا دی او د راتلونکې غوښتنه همدا ده!




او دې ته ورته نورې خبرې خو اصلي لامل یې بل څه و او هغه هم د همغه مار شتون و چې زر سرۍ شي. هو په هماغه هیواد کې ستر مار شتون درلود چې د هیواد ټول ثروت یې لکه سره زر،مس،آلماس،نفت او داسې نور ډېر څه یې لوټل او هر یو د ښه ژوند لرونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پاته دې نه وي سره له دې چې دا سرونه د یوه بدن غړي او مال وو او ټولو ته له یوه زړه وینه رسېده خو بیا هم په خپلو کې نه سره جوړیدل او هر یوه غوښتل چې ډېرې پیسې او ثروت ولري هغه و چې له یو بل سره په سیالۍ شول.



د مار په سرونو کې لس سره چې له نورو ډېر لوی ول، شتون درلود. د هغو کارگرانو شمېر چې د دې لسو سرونو څخه هر یوه لپاره یې کار کاوه نسبت د هغو نورو سرونو د کارگرانو شمېر ته چې هغوی ته یې کار کاوه زښت زیات و.د ټولو کارگرانو شمېر شل زره تنه و له دې شلو زرو څخه لس زرو یې د لسو لویو سرونو لپاره کار ترسره کاوه او لسو زرو نورو کارگرانو د پاتې نورو سرونو لپاره یاني د ټولو کارگرانو نیمایي د لسو سرونو لپاره او نیمایي نورو د ۹۹۰ سرونو لپاره کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ته خپله حساب وکړه چې کله د سرونو ترمنځ سيالۍ وې څرګنده ده چې لس لوی سرونه(لوی پانګوال)به ډېر توليد وکړي.

په واقعيت کې له نيمايي نه ډېر توليد شوي توکي د هغوی په لاس توليد شوي دي. لنډه دا چې وروسته له کلونو لس لوی سرونه دې پايلې ته ورسېدل:اوس چې زمونږ د ټولو له سيالۍ نه وروسته ټول توليد زمونږ منګولو کې راټول شوئ ښه ده چې سره يو شو او سيالي تر شا پرېږدو.پدې ډول په آرامه سره کولی شو چې د خپلو توکو قيمت هر څومره چې زمونږ زړه غواړي لوړ کړو او خپل توليدات کنترول کړو او هم وړو پانګوالو(وړو سرونو)ته چې لا اوس هم غواړي سيالي وکړي ضربه ورکړو.



هو هغوی لس سره ول چې ترمنځ يې جوړښت ډېر په آسانه سره ترسره شو بالاخره آزادې سيالۍ سره له دې چې د ټولنې اړتياوې يې په نظر کې نه نيولې د دې لامل شوه چې توليدات په يوه ځای کې سره راټول شي.د توليد داسې يو ځای ټولېدنه (د توليد تمرکز)په پراوېزه ډول انحصار رامنځته کړ يانې دا چې آزاده سيالي په انحصار واوښته، دلته وه چې د مار د سرونو شمېر زرو ته ورسېد هغه دا چې پانګولۍ خپل وروستي پړاو امپرياليزم ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر پانګوال د دې لپاره چې ټول تولید په خپل لاس کې واخلي هڅه يې کوله چې په چل ول سره واړه/کوچني پانګوال دې ته اړ باسي چې يا له هغوی سره يو ځای شي تر څو له سيالۍ نه لاس واخلي او يا هم مات شي.د بیلګې په توګه د دې چل ول څخه يو څه داسې ؤ چې د تولید شویو توکو پیرودونکو او یا هم له ټولو پیرودونکو سره داسې تړون کاوه چې یوازې له دوی(ستر پانګوالو)څخه توکي واخلي یا مثلاً له کارګرانو سره يې داسې قرارداد تاړه چې يوازې د دوی لپاره کار وکړي او يا يې هم په هر چل او نیرنګ سره د هغو خامو موادو چې فابريکه کې د توکو د تولید لپاره ورته اړتیا وي - وړو پانګوالو ته د هغو د رسیدو مخه - ډب کړي او دې ته ورته نور داسې کړه وړه.



سړي وويل: واړه پانګوال په څه شکل له سترو پانګوالو سره يو ځای کېږي؟
مرغه وويل: واړه پانګوال له هغې پانګې سره چې د دوی په لاس کې وه په سهامي يا ونډه ييزو شرکتونو کې يې ګډون وکړ. ياني يو يا څو ونډې يې واخيستې.
سړي وويل: زه د ونډه ييزو شرکتونو آړوند په څه نه پوهيږم مهرباني وکړه که شوني وي لږ ډېر او په ساده ډول په دې اړه راته خبرې وکړه.


(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه وویل: وړاندې مې وویل چې د پانګوالو ترمنځ سیالي د دې لامل ګرځي چې تولید په یوه ځای کې سره راټول شي.دا،په یوه ځای د تولید راټولیدل واړه پانګوال له ناوړه وضعیت سره مخامخوي.




پانګوال پوهېدل چې د یوه صنعتي یا سوداګریز شرکت د رامنځته کولو لپاره لوېې پانګې ته اړتیا لیدل کېږي. ځکه چې که یو شرکت له کمې پانګې سره جوړ شي نه شي کولای چې دوام ومومي نو هغه وو چې د شرکت د رامنځته کولو په موخه یې لویه پانګه په نظر کې ونیوله دا پانګه یې په څو برخو وویشله مثلاً فرضوو چې د یو صنعتي شرکت د ایجاد لپاره لس زره افغانیو ته اړتیا ده.دا لس زره افغانۍ په لسو زرو برخو ویشي چې هره برخه یې له یوې افغانۍ سره برابره ده.اوس هر پانګوال د خپل وس په اساس یو یا څو برخو(ونډو،سهمونو) روپۍ ورکوي او د ونډې(سهام)یوه پاڼه ترلاسه کوي په دې شرکت کې بزګران هم کولای شي چې د ونډو خاوندان شي.هغوی کولای شي چې د یوې یا دوو افغانیو په ورکول سره د ونډپاڼو(سهام پاڼو) خاوندان شي.

سرې وویل: نو ونډه ییز شرکتونه د بزګرانو په ګټه دي؟



مرغه وویل:ظاهراً داسې ښکاري چې پانګوال حتی بزګرانو ته هم فرصت ورکوي چې پانګه اچونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي وويل: نو پرته له دې څه کيداى شي؟

مرغه وويل: ستر پانګوال هغه کار ته چې د دوی په ګټه نه وي لاس نه ور وړي نو سل په سله کې دا هم يو چل دی.

ستر پانګوال سره له دې چې واړه پانګوال له مخې لرې کوي د هغوی پانګه هم د ځان لور ته راکاږي.روښانه ده چې په شرکت کې ستر ګډونوال ستر پانګوال دي.نو ځکه د شرکت هر کاره او د واک خاوندان همدوی دي.هغوی دې ۹۰۰۰ افغانیو نه ډېره پانګه ورکوي آلبته چې تل داسې هم نه وي کله کله ستر پانګوال د لسو زرو نه درې زره افغانۍ ورکوي خو سره له دې هم د شرکت واکمنان دي او پاتې نورو چې اوه زره افغانۍ پانګه يې ورکړي ده هيڅ کاره هم نه دي او د هغوی پيسې د څو سترو پانګوالو لپاره کار کوي.

نه پوهيږم چې پام دې شو او که نه؟ هغه دا چې ستر پانګوال له يوې خوا وړې پانګې(له وړو پانګو نيولې بيا د بزګرانو تر جزيي پيسو پورې)ځان سره ټولوي،او له بلې خوا واړه پانګوال له خپلې مخې لرې کوي او د هغوی د سيالۍ مخه نيسي.

سړي وويل: هو خو يو څه ته چې زما پام نه شو هغه دا چې دوی ولې له سيالۍ سره مخالف ول؟

مرغه وويل: لکه مخکې چې مې وويل،ستر پانګوال له نيمايي څخه ډېر توکي توليدوي يانې دا چې ډېرۍ توليد د دې سترو پانګوالو په لاس کې ؤ. اوس فکر وکړه چې ستر پانګوال هم ځواکمن او هم لوی دي يانې پانګه يې ډېره وه که يې غوښتي وای چې يو بل سره سيالي وکړي پرته له زيانه به له بل څه سره نه وای مخ شوي.

فرض کړه چې دوو پانګوالو ټوکر توليد کړی وای، او هر يوه غوښتي وای چې توليد يې ډېر او په ښه بيه خرڅ شي نو د دې کار لپاره يې په سيالۍ لاس پورې کاوه د مثال په ډول يوه لوړه بيه او بل ټيټه بيه ورته ټاکله نو ګورو : هغه يوه چې لوړه بيه ټاکلې وه ټوکر ورته په ځای پاتې کيده او هغه يوه چې بيا ټيټه بيه ټاکلې وه هغه ښه ګټه ونه کړه.






هغه و چې دوی د خپلمنځي جوړښت(سازش)او يووالي په فکر کې شول يانې داسې اتحاديې يې تشکيل او پخپلو کې يې تړونونه وکړل چې په ګډه سره د خلکو جيبونه خالي کړي له هغه وروسته يې د توکو بيه په خپله خوښه پورته وړه.

سړي وويل:هغوی بيه څنګه کنترولوله؟ او د توليد په انحصارولو کې يې څنګه مرسته کوله؟

مرغه ځواب ورکړ: د کارټل،سنديکا،ټراستونو او نورو په مرسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library




سړي وويل: کارټل،سنديکا او ټرسټ ياني څه؟

مرغه وويل: کارټل هغه تړون دی چې د سترو پانګوالو ترمنځ کېږي.کارټل د هغو توکو بيه او مقدار چې يوه فابريکه يې توليدوي،ټاکي.

د دې تړون په آساس د خرڅلاو بازارونه هم د سترو پانګوالو ترمنځ ويشل کېږي.کارټل د پانګوالو ترمنځ هغه اتحاد دی چې په خپله خوښه پرته له کوم خنډ نه د توکو بيه ماسيوا له دې چې بل څوک خپل توکي په ارزانه بيه خرڅ کړي،لوړ کړي.



سنديکا،هم د پانګوالو يو داسې اتحاد دی چې د کارخانو او شرکتونو د اړتيا وړ خام توکي چې هغوی د توليد لپاره ورته اړتيا لري،پيري او د يادو توليدو شوو توکو خرڅلاو هم د دوی په غاړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټراسټ،هم د پانګوالو اتحاديه ده چې واک يې ډېر دی.ځکه د هغو پانګوالو په خاطر چې په ټراسټ کې يې ګډون کړی د هغو د صلاح او ګټې لپاره يو شرکت تعطيل(وځنډوي)او يا هغه له يوه ځايه بل ځای ته ولېږدوي.




هو ستر پانګوال د کارټلونو،سنديکاوو او ټراستونو په وسيله خپل سيالان له منځه يووړل.

هغو دې قراردادونو پوسيله واړه پانګوال ټراستونو،کارټلونو او سنديکاوو ته رادننه کړل.هر چا چې نه غوښتل دې اتحاديو ته ننوځي او سيالی سره يې علاقه درلوده روښانه ده چې د هغوی وضعيت به څنګه ؤ.

وړو پانګوالو نه غوښتل چې سيالي څنګ ته کړي او سترو پانګوالو سره يو ځای شي، سره له دې چې له شاتګ او ماتې سره مخ ول.خو آيا فکر کوئ چې انحصار به وتوانيږي تر څو په تمامه مانا سيالي له منځه يوسي؟ که داسې انګيری نو مطميناً تيروتي ياست ځکه چې انحصار په ګُلي ډول سيالي له منځه نه شي وړای.

سمه ده چې ستر پانګوال د انحصار په مرسته توانيدلي چې د توکو په سر د سيالی په اساس د بيې ټاکل له منځه يوسي خو د دې رقابت په له منځه وړو او انحصار په رامنځته کيدو سره د سترو پانګوالو ترمنځ چې متحد او خپل کې يې ټړونونه کړي ول د خپلو توکو د ډېر توليد او خرڅلاو لپاره د ښو بازارونو د خپلولو او داسې نورو په سر نوي سيالی رامنځته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو ګرانه ملګريه سيالي چې د توکو د تمرکز يا يو ځای راټوليدو او د انحصار د رامنځته کيدو لامل ګرځيدلي وه له منځه ولاړه خو نوي سيالۍ د سترو پانګوالو ترمنځ را ښکاره شوه.




لا تر اوسه مې له ياده نه دي وتلي چې د انحصار او سترو پانګوالو سره د بانکونو د مرستې آړوند هم يو څه درته روښانه کړم.

کله چې پانګوال خپله پانګه په کار اچوي د ګټې لپاره بايد انتظار وباسي.دا ګټه په يوه وار په لاس نه ورځي ځکه چې توکي په پراويزه ډول توليد او پلورل کېږي مثلاً يو پانګوال په نظر کې ونيسئ. چې سل زره افغانۍ پانګه اچونه يې کړې دوی غواړي چې د دې پانګې ګټه هم په خپله پانګه ور اضافه کړي او همدارنګه خپلې فابريکې ته پراختيا ورکړي. خو آيا دا ګټه په يوه ځل د ده لاسته ورځي؟


روښانه ده چې نه! ځکه هره ورځ چې څومره توکي توليديږي او پلورل کېږي هغومره ګټه هم لږ لږ ټوليږي.فرضاً په ورځ کې زر افغانۍ ګټه ترلاسه کوي خو هغه نشي کولای چې د يوې ورځې په ګټې سره خپلې فابريکې ته پراختيا ورکړي. نو هغه ده چې په تمه کېږي ترڅو سل ورځې پوره شي او د خپلې پانګې ټوله ګټه ترلاسه کړي نو بيا به پرې خپلې فابريکې ته پراختيا ورکوي. پدې توګه په سلو ورځو کې چې هره ورځ يو مقدار پيسې د پانګوال لاسته ورځي،بې لګښته پاتې کېږي او دا چې مصرف کړي يې نه دي هغه مقدار بانک ته سپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټول پانګوال دا کار کوي.نو اوس حساب وکړه چې هر پانګوال خپله بې مصرفه پانګه بانک ته ولېږدوي نو څومره ډېره پانګه به په بانک کې راټوله شوي وي.

د سترو بانکونو په یوو الي سره ډېره زیاته پانګه ټولېږي.چې هغې ته د پانګې تمرکز ویل کېږي.



مخکې مو هم د ونډه ییزو شرکتونو پوسیله د وړې او لویې پانګې د ټولیدو په آړه خبرې وکړې. خو هغه څه چې روښانه دي؛ دا دي چې دا پانګې په بانکونو کې بې لګښته نه پاتې کېږي ځکه نور پانګوال ورته اړتیا مومي او د قرض په نامه یې له بانکه اخلي او د یو څه مودې وروسته یې له ټاکلي ګټې سره یوځای بېرته بانک ته سپاري.آړینه ده روښانه یې کړم چې بانکونه په لومړیو کې پدې شکل نه وو تقریباً پنځه سوه اتیا کاله پخوا لومړی بانک په ایټالیا کې پرانیستل شو او څرنګه چې سوداګرۍ پراختیا وموندله په تدریجي ډول نورو ځایو کې هم بانکونه رامنځته شول او هغوی چې د بانکونو خاوندان ول دنده یې دا وه چې سمې پیسې له ناسمو بیلې کړي.په هغو وختونو کې بانکونه د پیسو د راکړې ورکړې مرکزونه ول خو نن ورځ دې پنځه سوه اتیاکاله پخوا نه توپیر لري نن سبا د بانکونو دنده دا ده چې بې ګټې پانګې راټولې او په ګټه لرونکو پانګو یې واړوي.د پانګو راټولیدل(د پانګې تمرکز)له انحصار سره ستره مرسته ګڼل کېږي او ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واضح ده چې دا تعریف په یوازې توګه د بانکونو د مهمو کړنو بیانوونکی نه دی نو اړینه ده تر څو دې ټکي ته اشاره وشي چې کله بانکونه بې ګټې پانګه په ګټه لرونکي پانګه اړوي او هغې ته لورئ/جهت ورکوي یاني په دې ډول یاده پانګه په ګټه لرونکي پانګه اړوي چې د سیالۍ د ورکېدا سره مرسته کوي.

هو بانکونه همدا غواړي چې سیالۍ له منځه یوسي او په ځای یې هر څومره چې لازمه وي، انحصار په ډېرې چټکتیا سره د هغې ځای ناستی کړي. بانکونه د ونډه ییزو پانو پلورلو سره د ونډه ییزو شرکتونو په رامنځته کولو کې بې ساري مرسته کوي. پاتې دې نه وي چې د بانکونو ډېری مدیران یاني د دې ونډه ییزو شرکتونو اداره کوونکي د بانکونو استازي دي.

سړي وویل: کولی شې چې په یوه یا څو بانکونو کې د پانګې د تولیدو مثال وړاندې کړې.

مرغه وویل: هو اته ویشت کاله پخوا په فرانسه کې له هرو سلو روپیو څخه شپږ شپیته روپۍ د شپږو لویو بانکونو پانګه یاني د هیواد ۷۷ سلنه پانګه په ۶ بانکونو کې تولیده ۴ کاله وروسته د همغو ۶بانکونو پانګه په هرو ۱۰۰ روپیو کې ۷۲ ته ورسېده او د سلګونو نورو بانکونو پانګه په ۱۰۰ کې ۲۸ روپۍ وې.د انګلستان هیواد په نظر کې نیسو،اتیا کاله پخوا د پنځو سترو بانکونو پانګه په ۱۰۰ کې ۲۸ یورو ته رسیدله او ۶۴ کاله پخوا په ۱۰۰ کې ۳۷ یورو د دې پنځو بانکونو پانګه تشکیلوله. د همدې پنځو بانکونو پانګه ۵۰ کاله پخوا ۷۳ یورو او پاتې ۲۷ سلنه د نورو سلګونو بانکونو پانګه جوړوله.څلور کاله مخکې ۸۵ سلنه پانګه د همدغو پنځو بانکونو او د سلګونو نورو بانکونو ۱۵ سلنه وه.

ګورې چې څه ډول د وخت په تېرېدو سره پانګه په یوه ځای کې راټولیږي.

سړي وویل: کله چې ټوله پانګې په یوه یا څو بانکو کې ټولیږي نو آیا واړه بانکونه له منځه ځي؟

مرغه وویل: یا خو لخ منځه ځي او یا هم د سترو بانکونو د څانګو بنه خپلوي.وړاندې مې وویل چې کله پانګې بانکونو کې ټولیږي. ستر پانګوال د خپل کار او تولیداتو د پراختیا او ډېرښت په موخه هغې پانګې ته اړتیا پیدا کوي. یاني صنعتي انحصاري پانګه(سترې کارخانې او صنعتي شرکتونه د سترو پانګوالو په انحصار کې دي)د انحصاري بانکي پانګې(سترې پانګې چې بانکونو کې ټولیږي او په واقعیت کې د سترو بانکوالو په اختیار کې وي)سره ترکیب مومي، پدې توګه د صنعتي انحصاري پانګې او بانکي انحصاري پانګې د ترکیب (یو ځای کیدو)نه مالي پانګه منځته راځي.

مالي پانګه=انحصاري صنعتي پانګه+انحصاري بانکي پانګه



(c) ketabton.com: The Digital Library

د صنعتي انحصاري او بانکي انحصاري پانکو ترکیب کې لا روښانه کېږي چې ډېرئ هغه پانګوال چې د بانکونو ټولې چارې د دوئ په لاس دي او په یادو بانکونو کې د سترو مقامونو خاوندان دي په کارخانو او صنعتي شرکتونو کې هم د لویو واکونو او مقامونو خاوندان دي(هر هغه څوک چې په یوه سهامي شرکت کې ډېره پانګه ولري د ده واک،مقام او د ګټې سلنه به هم له نورو ګډونوالو ډېره وي).

د بېلګې په توګه اویا کاله وړاندې په یوه هیواد کې درې بانکونه د ۱۸۰ صنعتي موسسو او ۲۲ شرکتونو اداره کوونکي ول.یدې مانا چې دې درې بانکونو په ۳۸۰ شرکتونو کې ستر مقامونه لرل او له بلې خوا ۲۵ لوئ کارخانه لرونکي د دې بانکونو غړي او اداره کوونکي ول.

۵۰ کاله پخوا په همدې هیواد کې ۳۵ ستر کارخانه لرونکي د دوه لویو بانکونو غړي او اداره چیان ول.له یادو څرګندونو څخه روښانیږي چې څنګه بانکوالو په صنعتي او سوداګریزو شرکتونو کې د مقامونو خاوندان او هم د کارخانو خاوندان په بانکونو کې د مقامونو لرونکي ول. تر ټولو ډېره دا روښانه شوه چې د بانکي انحصاري پانګې او صنعتي انحصاري پانګې څخه مالي پانګه منځته راغله.

ستر پانګوال د دې لپاره چې خپل عمر ډېر کړي،تبلیغاتي دستګاوې(راډیو،ټلویزیون او داسې نور)پولیس او پوځ پخپل لاس کې واخلي.له تبلیغاتي دستګاوو یاني راډیو،تلویزیون،ورځپاڼو،خپرونو او داسې نورو څخه د خلکو د غولولو او مصروف ساتلو او د پانګوالۍ سیستم د تبلیغ په موخه کار اخلي. همدارنګه له پولیسو او پوځیانو څخه د هر ډول غبرګون د ټکولو لپاره استفاده کوي.

ستر پانګوال چې شمېر یې زښت زیات کم دی، د ټول هیواد پانګه په لاس کې لري. له ځمکې،کښت،کانونو(سرو سپینو زرو،سرب،یورانیم،آلمونیم،نفت)څخه نیولې تر سترو کارخانو او سوداګریزو شرکتونو پورې ټول د دوئ ملکیت تشکیلوي. چې د دې پانګې د ساتلو په منظور پولیس،وسله وال ځواکونه او تبلیغاتي ټولې وسیلې په لاس کې لري.کله چې یاد وسایل یاني ټول اقتصادي او سیاسي وسایل په خپل لاس کې ونیسي،مالي الیګارشي لاس ته راځي.

مالي آلیګارشي یاني د یو څو تنو په لاس کې د ټولو اقتصادي او سیاسي امکاناتو راټولیدل مثلاً په امریکا کې هر څه(ځمکه، سترې کارخانې،ستر سوداګریز شرکتونه،لویې بانکې موسسې،تبلیغاتي وسایل،ښوونیز مرکزونه،ټوله دولتي ډانچه او همدارنګه وسله وال قوتونه او پولیس......)د شپیتو ۶۰ کورنیو په لاس کې دي دا شپېته کورنئ چې په اتو ډلو(د مورګان ډله،د راکفلر ډله،دوپان او پنځو نورو ډلو)ویشل شوي په ګډه سره د هیواد اقتصاد په خپلو لاسونو کې اخیستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا ۲۵ کاله مخکې د مورګان ډله د دوولس بانکي،صنعتي،لېږد را لېږد او نظامي موسسو چې ۵۲۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ او د راکفلر ډله د نهو سترو بانکي او نفتي موسسو چې ۴۸۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ کېږي خاوندان ول.

د پانګې لېږد،کله چې ټوله پانګه په يو ځای کې ټوليږي نو پانګوال نشي کولای چې هغه ټوله پانګه خپل هيواد کې په کار واچوي.ستر پانګوال د دې پانګې کمه برخه خپل هيواد او پاتې برخه له هيواد نه بهر ته لېږدوي ياني پاتې پانګه خارج کې په کار اچوي او توکي پرې توليدوي.

سرې وويل: آيا دوی نشي کولای چې په هماغې پانګې سره خپل هيواد کې توکي توليد او بيا يې بهر ته ولېږدوي؟

مرغه وويل: ولې نه! کولای شي خو دا کار بيا ورته دومره ګټه نه کوي ځکه چې ډېرې مشکلات يې په وړاندې پراته دي.د بېلګې په توګه يو له دې مشکلاتو څخه هم ګمرک دی.کله چې يو سوداګر له يوه هيواد و بل هيواد ته توکي لېږدوي د هغه هيواد دولت له هغه سوداګر څخه ګمرکي ماليه اخلي.اوس نو له دې کار څخه د دولت موخه څه ده؟

روښانه ده.موږ پوهيږو چې دولت د پانګوالې طبقې ملاتړی دی.نو ګمرکي ماليه د دولت هغه سياست دی چې بېرته د پانګوالو په ګټه تماميږي نه د خلکو.

د بيلګې په وړاندې کولو سره يې واضح کوو.فرض کړئ چې په انګلستان کې يو متر ټوکر په يوه ډالر او فرانسې هيواد کې هماغه يو متر ټوکر په لس ډالره ده، اوس نو که هماغه ټوکر فرانسې ته ولېږدول شي د دې لپاره چې ډير ارزانه دی د فرانسوي پانګوالو د ټوکرو د پلور مخنيوی کوي نو همدا لامل دی چې د فرانسې دولت چې د خپلو سوداګرو ملاتړی دی په انګليسي ټوکرو ماليه وضعه کوي پدې ډول هغه ټوکر چې له انګلستانه فرانسې ته راځي بيه يې که له فرانسوي ټوکر څخه کمه نه وي نو ډېره به هم نه وي.

دا چې ولې پانګوال خپله پانګه له هيواده بيرون لېږدوي ګڼ لاملونه لري.ګمرکي ماليې ترځنګ بل لامل يې دا دی چې له هيواده بيرون د پانګې لېږدول ډېره ګټه لاسته راوړي. د بيلګې په توګه:پانګوال د دې په ځای چې له يوه هيواده جغندر اخلي، ګمرکي ماليه ورکوي او د لېږد را لېږد وسايلو په وسيله د ګڼو لګښتونو او مشکلاتو د ګاللو وروسته خپلې فابريکې ته راوړي او بيا ترې بوره جوړوي او له هغه وروسته يې هغه هيواد او نورو ته استول مستيقماً پانګه وباسي او هغه بل هيواد کې پانګه اچونه کوي(پانګه په هغه هيواد کې لګوي چيرته چې د توليدي توکو لپاره خام مواد موجود وي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتني لاملونه له هغو وړو لاملونو څخه دي چې پانګوال ته دومره د ارزښت وړ نه دي خو تر ټولو مهم لامل چې پانګوال د پانګې ایستلو ته اړ باسي د ګټې د نرخ ښکته راتلل دي.[د نرخ ښکته راتللو څخه د لیکوال موخه دا ده چې د پانګې د لېږد یو لامل همدا د نرخ د سود لړوالی دی یاني کله چې د دوی په هیواد کې د ګټې نرخ لږ شي نو دوی د لوړ نرخ(د ډېر اضافي ارزښت) د تر لاسه کولو په موخه په هغو هیوادو کې چې هلته د ګټې نرخ لوړ وي، خپله پانګه هلته لېږدوي.] دا چې لوی پانګوال تل د ډېرې ګټې په لټه کې دي نو خپله پانګه وروسته پاته هیوادونو ته لېږدوي. په دې هیوادونو کې پانګه ډېره کمه ده،اوجورې ډېرې ټیټې دي،ځمکه ارزانه ده او هغه خام مواد چې مطلوبه توکي ترې تولیدیږي ارزانه دي او داسې نور...

سرې وویل: د ګټې نرخ څه دی چې د پانګې د لېږد اصلي لامل ګڼل کېږي؟

مرغه وویل: وړاندې له دې چې په هره ټولنه کې پیسې په مبادله کې رول ومومي،مبادله د توکو-توکو(جنس په جنس)یاني توکۍ د توکي په وړاندې تبادله کیده.د بیلګې په توګه یو تن غنم لري او په عین وخت کې سکارو ته اړتیا لري نو نوموړی خپل غنم له هغه چا سره بدلوي چې هغه سکاره ولري خو خپله بیا غنمو ته اړمن وي.یاني غنم یې په سکارو بدل کړل.دې ډول مبادلې ته لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه توکی-توکی یا توکي د توکو په وړاندې!

نو کله چې پیسو، په ټولنه کې مهم رول ومومو نور نو لازمه نه وه چې هغه کس چې غنم یې لرل او سکرو ته اړمن ؤ د هغه چا پسې وګرځي چې هغه سکاره ولري او غنمو ته اړمن واوسي او دواړه بیا خپلو منځو کې د اړتیا وړ توکو د تر لاسه کولو په موخه خپل توکي سره بدل کړي...بلکې مستیقماً هغه کس چې د توکو خاوند وي، هغه په بازار کې خپل توکي پلوري او د هغو پیسو پوسیله د خپل اړتیا وړ توکي رانیسي...دې ډول مبادلې ته، توکی – پیسې – توکی یا هم د پیسو په وړاندې توکي او پیسې د توکو په وړاندې ویل کېږي. دلته اړینه ده توضیح ورکړل شي چې لومړنی توکی له وروستني توکي سره د ارزښت له مخې توپیر نکوي. خو د جنسي اړخه بیا توپیر کوي. د مثال په ډول فرضوو: یو کس چې د سل متره ټوکر خاوند دی، غنمو ته اړتیا لري. نو خپل ټوکر په ۵۰۰ افغانیو پېري او په هماغو ۵۰۰ افغانیو ۲۰۰ کیلو ګرامه غنم رانیسي.

۱۰۰ متره ټوکر = ۵۰۰ افغانی

۲۰۰ کیلوګرامه غنم = ۵۰۰ افغانۍ

۲۰۰ کیلوګرامه غنم = ۱۰۰ متره ټوکر

دا چې سل متره ټوکر او ۲۰۰ کیلو غنم دواړه له ۵۰۰ افغانیو سره بر ابر دي، نو د ارزښت له اړخه دواړه [غنم او ټوکر] سره ورته دي خو کاملاً واضح ده چې دا دواړه یاني غنم او ټوکر له جنسي اړخه سره توپیر لري. ځکه یو یې غنم او بل یې ټوکر ده.په دې ډول مبادله کې هغه څوک چې توکی لري لومړی خپل توکی پیسو ته نردې کوي او بیا وروسته پیسې د خپل اړتیا وړ توکي باندې بدلوي.

خو په پانګولې کې دا ډول تاوېدل را تاوېدل په [پیسو – توکی – پیسو] باندې واوښت. یاني پیسې د کالیو په وړاندې او کالي د پیسو په وړاندې. دلته پانګوال په پیسو کالي تولیدوي او بېرته کالي پلوري او هغه پیسو ته نردې کوي. یاني پانګوال پیسې په توکو او توکي په پیسو اړوي لکه مخکې مو چې وویل چې دې ډول مبادلې ته: پیسې – توکی – پیسې ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې دلته مهم دي، دا دې تر څو ووينو چې لومړنۍ پيسې له وروستنيو سره څومره توپير لري؟ د دې پوښتنې ځواب ډېر ساده او روښانه ده: واضح ده چې وروستنۍ پيسې تر لومړنيو ډېري دي. اوس که چېرته له وروستنو پيسو څخه لومړنۍ پيسې منفي کړو، يو مقدار پيسې پاتي کېږي چې هغو ته اضافي ارزش وائي.

اضافي ارزش= لومړنۍ پيسې ــ وروستنۍ(ترلاسه شوي پيسې)

ياني وروستنۍ پيسې برابري دي له :

اضافي ارزش+ لومړنۍ پيسې= وروستنۍ پيسې

سړي وپوښتل: (آيا په واقعيت کې لومړنۍ پيسې ټوله پانګه ده چې پانګوال يې د توليد په موخه په کار اچوي؟)

مرغه وويل: ( هو، ټوله پانګه له دوه ډوله پانګې څخه تشکيل شوي ده. يوه يې ثابته پانګه(خام مواد او د کارخانې نور لګښتونه) او بله يې بدلون منونکي/متغيره پانګه (دکارګر کاري ځواک). ياني پانګوال د خپلې پانګې يوه برخه د خامو موادو په رانيولو او د کارخانی نورو لګښتونو په موخه لګوي چې دې برخې ته ثابته پانګه او بله برخه د کارګرانو د اجورې پحيث لګوي/کارګرانو ته د کار په وړاندې يا هم د کارګرانو د کاري ځواک د رانيولو په موخه لګوي چې دې برخې ته متغيره پانګه وائي.

سړي وويل: (وروستنۍ پيسې چې له لومړنيو پيسو(ټوله پانګه) څخه ډېري دي له ثابتي پانګې څخه لاسته راځي او که له متغيري پانګې څخه؟)

الوتکي وويل: (( روښانه ده چې له متغيري پانګې(د کارګرانو کاري ځواک) څخه)).

کله چې پانګوال خام مواد کارخانې ته راوړي، که دا خام مواد همداسي پراته وي، هيڅکله به هم په توکو وانه وړي. نو کارګران دي چې خام مواد په توکو بدلوي. چې په دې اړه به وروسته يو څه توضيحات ورکړو. اوس اجازه راکړه د خپلې هغې پخوانۍ خبرې د ورستنيو او لومړنيو پيسو تر منځ اړونده توپير ته ادامه ورکړم. هو؛ هغه څه چې مالوم دي، کله چې پانګوال خپلې پيسي په کار اچوي او توکي توليدي، موخه يې د هغو توکو مصرفول نه بلکې موخه يې د هغو پلورل دي. ياني موخه يې دا ده چې توکي په پيسو واړوي. دقيقاً روښانه ده که چېرته لومړنۍ پيسې د وروستنيو سره برابري شي پانګوال به هيڅ وخت پانګونه ونه کړي. ځکه کله چې وروستنۍ پيسې د لومړنيو سره برابري شي:

لومړنۍ پيسې = وروستني پيسې

په دې صورت کې پانګوال هيڅ ګټه نشي تر لاسه کولای.

۰ = لومړنۍ پيسې = وروستني پيسې

د بېلګې په توکه که د پانګوال لومړنۍ پيسې ۲۰۰ افغانۍ وي او وروستنۍ پيسې هم ۲۰۰ اقغانيی وي پانګوال به هيڅ ګټه ونکړي.

۰= ۲۰۰ افغانۍ(لومړنۍ پيسې) ــ ۲۰۰ افغانۍ(وروستنۍ پيسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسي حال کې چې پانګوال هغه وخت پيسې د توليدي کار په موخه لګوي چې پيسې نسبت پخوا ته په ډېرو پيسو واړوي. ياني  غواړي چې غواړي چې وروستنۍ پيسې يې هماغه لومړنۍ پيسې سره له اضافي ارزښه وي.

اضافي ارزش + لومړنۍ پيسې = وروستنۍ پيسې

بايد پوه شو چې اضافي ارزش څنګه لاسته راځي؟ په ځواب کې بايد وويل شي چې اضافې ارزش د کارګرانو د لاسي تناکو څخه لاس ته راځي. مثلاً فرضوو چې يو پانګوال د ځانګړو توکو د توليد لپاره ۵۰۰ افغانۍ پانګه اچونه کوي او له دې ۵۰۰ افغانيو څخه ۲۰ افغانۍ د کارخانې( د کاري اوزارو) لګښت، ۳۸۰ افغانۍ د خامو موادو  رانيولو لپاره او ۱۰۰ افغانۍ هم د کارګرانو د اجورې په موخه مصرفوي. له ټولې پانګې څخه ۴۰۰ افغانۍ ثابته پانګه او ۱۰۰ افغانۍ هم متغييره پانګه تشکيلوي.

مثلاً که چېرته کارګران د ورځې اته ساعت کار وکړي، له دې اتو ساعتو څخه څلور ساعته د ځان لپاره او څلور ساعته نور د پانګوال لپاره کار کوي. ياني هغه ۱۰۰ افغانۍ چې پانګوال د ثابتې پانګې په صفت کارګرانو ته ورکړې يوازې د د کارګرانو د څلورو ساعتو اجوره ده نه د اتو ساعتو. نو کله چې د کارګرانو د څلورو ساعتو اجوره ۱۰۰ افغانۍ کېږي نو د اتو ساعتو کار اجوره به يې ۲۰۰ افغانۍ شي. خو پانګوال د هغو څلورو نورو ساعتونو اجوره کارګرانو ته نه ورکوي. ياني د کارګرانو د کار ۱۰۰ افغانۍ ترې پټوي: همدا ده چې د پانګوال لومړنۍ پيسې چې ۵۰۰ افغانۍ وې، ۱۰۰ افغانۍ نورې هم زياتېږي. پورتنۍ مطلب په لاندې ډول داسې ليکو چې:

متغييره پانګه + ثابته پانګه = ټوله پانګه

۱۰۰ افغانۍ(د کارګرانو اجوره/د څلور ساعته کار ارزش) + ۳۸۰ افغانۍ(خام مواد) + ۲۰ افغانۍ(د کارخانې لګښتونه) = ۵۰۰ افغانۍ

مخکې هم څرګنده شوه که چېرته وروستنۍ پيسې د لومړنيو پيسو سره برابرې وي، هيڅ يو پانګوال به دېته حاضر نشي چې چې خپلې پيسې په کار واچوي. نو کله چې پانګوال پيسې په کار اچوي، غواړي چې پيسې يې ډېرې شي؛ نو

راځي او کارګران زيږبني. ياني له هغو کار د اتو ساعتو اخلي او اجوره د څلورو ساعتونو ورکوي. روښانه ده کله چې د کارګرانو د څلورو ساعتونو کار ارزش ۱۰۰ افغانۍ وي، د اتو ساعتونو  به ۲۰۰ افغانۍ وي. خو هغه پاتي  ۱۰۰ افغانۍ چېرته ځي؟ مالومه ده چې د پانګوال جېب ته ځي. په دې صورت کې وروسته د توکي له توليد او خرڅلاو څخه وينو چې:

۶۰۰ افغانۍ(وروستنۍ پيسې)=۱۰۰(د ۴ ساعتو ارزش)+ ۱۰۰(د ۴ ساعتو ارزش)۳۸۰+(لومړني خام مواد)۲۰+(د کارخانې لګښت)  < ۵۰۰ افغانۍ لومړنۍ پانګه
اوس لومړنۍ پيسې له وروستنيو پيسو څخه منفي کوو:

اضافي ارزش۱۰۰ افغانۍ = ۵۰۰ افغانۍ ــــ ۶۰۰ افغانۍ

هغه څه چې موږ يې تر دې ځايه راورسلو هغه د سود/ګټې د نرخ مسله وه. که چېرته اضافي ارزش په ټوله پانګه تقسيم کړو، داسې عدد لاسته راځي چې هغه ته د ګټې نرخ وائي.

اضافي ارزش

ــــــــــــ × ۱۰۰   =  د ګټي - سود نرخ

ټوله پانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پانګوال تل د همدې حساب له مخې پانګه اچونه کوي. دمطلب د لا روښانتیا په موخه هماغه مخیکنی مثال تکرارؤ. که د پانګوال ټوله پانګه ۵۰۰ افغانۍ او اضافي ارزش یې ۱۰۰ افغانۍ وي، ګورو چې د ګټې نرخ یې څو سلنه کېږي.

۱/۵۰۰×۱۰۰=۱۰۰/۵۰۰×۱۰۰=ټوله پانګه/اضافي ارزش ×۱۰۰ = د ګټې نرخ

اوس د (۱) عدد د (۵) په عدد وېشو او په ۱۰۰ کې یې ضربوو:

د ګټې نرخ برابر دی له ٪۲۰ سره = ۱۰۰×۰,۲ = ۱۰۰×۱/۵

وړاندې مو وویل چې ټوله پانګه برابره ده له ثابتې پانګې ورسره د متغیرې پانګې.

متغیره پانګه + ثابته پانګه = ټوله پانګه

مخکې مو روښانه کړه چې اضافي ارزش له متغیرې پانګې څخه لاسته راځي. یاني اضافي ارزش د کارګرانو د کار څخه حاصلېږي. او کله چې اضافي ارزش ترلاسه شي، پانګوال له هغه څخه یو مقدار د خپل ژوند د لګښتونو پخاطر، څه یې هم د متغیرې پانګې او یو څه په ثابتې پانګې ور زیاتوي.

په دې برخه کې هماغه پخوانی مثال کاروو: که ټوله پانګه ۵۰۰ افغانۍ او اضافي ارزش ۱۰۰ افغانۍ وي، پانګوال د اضافي ارزش له ۱۰۰ افغانیو څخه ۱۰ افغانۍ د خپل شخصي ژوند د لګښتونو په موخه لګوي چې له هغو نه ۹۰ افغانۍ پاته کېږي او له دې ۹۰ افغانیو څخه ۲۰ افغانۍ په متغیرې پانګې ورزیاتوي...

[۱۰۰ پخوانۍ متغیره پانګه + ۲۰ = ۱۲۰ افغانۍ اوسنۍ متغیره پانګه]

او پاتې ۷۰ افغانۍ په ثابتې پانګې ورزیاتوي...

[۴۰۰ پخوانۍ ثابته پانګه + ۷۰ افغانۍ = ۴۷۰ افغانۍ اوسنۍ ثابته پانګه]

لکه څنګه مو چې مخکې ویلي ؤ چې ټوله پانګه د متغیرې پانګې او ثابتې پانګې څخه متشکله ده. نو اوسنې ټوله پانګه عبارت ده له:

افغانۍ۱۲۰ + ۴۷۰ افغانۍ = ۵۹۰ افغانۍ

متغیره پانګه(۱۲۰ افغانۍ) + ثابته پانګه(۴۷۰ افغانۍ) = ټوله پانګه(۵۹۰ افغانۍ)

په دې مانا کله چې پانګوال خپله ټوله پانګه(۵۰۰ افغانۍ) په کار واچولې او په نتیجه کې یې ۱۰۰ افغانۍ اضافي ارزش لاسته راوړ نو اوس یې د شخصي ژوند د لګښت(۱۰ افغانیو ) څخه ماسواء نقده پانګه (۵۹۰ افغانیو) ته ورسېده.

سړي وویل: ( تا وویل چې پانګوال د اضافي ارزش یوه برخه په متغیرې پانګې ورزیاتوي؛ موخه دې دا ده چې د کارګرانو شمېر ډېروي؟)

مرغه وویل: ( هو، کله چې د پانګوال پیسې ډېرېږي، د خپلو کارګرانو شمېر هم ډېروي.)

سړي وویل: (اوس پوه شوم.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه ادامه ورکړه: ( هو ریښتیا ما ویل چې پانګوال اوس د ۵۹۰ افغانیو پانګې خاوند دی یاني پانګله له ۵۰۰ افغانیو څخه ۵۹۰ افغانیو ته ورسېده. هغه څه چې موږ ته مهم دي دا دي چې ووینو د دې پانګې د ګټې نرخ څومره دی. د ګټې د نرخ د لاسته راوړلو لپاره لومړئ باید اضافي ارزش تر لاسه کړو.) او هغه داسي چې:

۵۹۰ افغانۍ ټوله په کار اچول شوي پانګه

۴۷۰ افغانۍ ثابته پانګه چې له هغې څخه ۳۰ افغانۍ د کارخانې لګښتونو لپاره [۴۴۰ = ۳۰ – ۴۷۰]

a ۱۲۰ افغانۍ د هغه کار ارزش چې کارګران يې د ځان لپاره کوي

b۱۲۰ افغانۍ د هغه کار ارزش چې کارګران يې د پانګوال لپاره کوي

(۷۱۰افغانۍ)تر لاسه شوي پانګه= b۱۲۰ افغانۍ + ۱۲۰ aافغانۍ + ۴۴۰ افغانۍ د خام مواد + ۳۰ < ۵۹۰ په کار اچول شوي پانګه

اوس د اضافي ارزش او د ګټې نرخ د لاسته راوړل په موخه لاندي پروسه مخ ته وړو.

اضافي ارزش = ټوله په کار اچول شوي پانګه – تر لاسه شوي پانګه

۱۲۰ افغانۍ اضافي ارزش = ۵۹۰ افغانۍ – ۷۱۰ افغانۍ

اضافي ارزش

———————— × ۱۰۰ = د ګټې - سود نرخ

ټوله پانګه

۱۰۰×۱۲۰/ ۵۹۰ = ٪ ۲۰,۳

یاني هر څومره چې متغییره پانګه ډېرېږي ورسره د ګټې نرخ هم لوړېږي. له یاده باید ونه باسو چې د ګټې نرخ د پانګوال لخوا د کارګرانو د زبېښاک درجه را په ګوته کوي یاني هر څومره چې یاد نرخ لوړ وي پوه شه شي چې په هماغه اندازه د پانګوالو لخوا د کارګرانو زبېښاک لوړ دی... [؟؟؟؟ ]

مرغه وویل: ( نه داسي نه ده. کارل مارکس د کاپیټال په دریم ټوک ویلي چې د ګټې د نرخ ټیټوالی د دې دلیل نشي کیدای چې ګویا پانګوال کارګران نه زبېښي(استثماروي) بلکې دلیل يې دا دی چې د پانګې د ودې چټکتیا نسبت اضافي ارزش ته ډېره ده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي ووېل: (تا به مخکې وېل چې پانګوال د ۸ ساعته کار څخه کارګرانو ته د څلورو ساعتونو اجوره ورکوي نو څنګه په وروسته پاته هیوادنو کې بیا د ۸ ساعته کار څخه د دوه ساعتونو اجوره هغو ته ورکوي؟)

مرغه ووېل: (ما یوازې مثال ورکړ. خو اړینه ده ووایم چې پانګوال کارګرانو ته دومره ورکوي چې د هغوی یوازې او یوازې د هغوی خېټه پرې ډکه شي تر څو وتوانېږي چې د بیا ځلی لپاره خپل کاري ځواک خرڅ کړي؛ اوس ممکنه ده چې په یوه هیواد کې کارګران د ۴ ساعتونو په اجورې، ځینو کې په ۲ ساعتونو او ځینو کې په ۶ ساعتونو خپل ژوند وڅرخوي.)

سړي ووېل: (پوه شوم)

مرغه ووېل: (حتماً به دې پام شوئ وي چې ولې په وروسته پاته هیوادونو کې د ګټې نرخ لوړ دی؛ د دې لپاره چې هلته ټوله پانګه ټیټه او اضافي ارزش لوړ دی:

اضافي ارزش

د ګټې - سود نرخ = ۱۰۰ × ______________

ټوله پانګه=خام مواد+د کارخانې لګښتونه+د کارګرانو اجوره

که مو په یاد وي پخوا مو ووېل چې هر څومره د کسر مخرج کوچنی وي، کسر لوېږي، په همدې اساس کله چې خام مواد ارزانه او د کارګرانو اجوره کمه وي د کسر مخرج کوچنی کېږي او په نتیجه کې کسر لوېږي، یاني د ګټې سود لوړېږي.

اضافي ارزش

د ګټې - سود نرخ = ۱۰۰ × ______________

خام مواد+د کارخانې لګښتونه+د کارګرانو اجوره

همدا ده چې پانګوال د خپلې پانګې ډېرې برخه(اضافي پانګه) وروسته پاته هیوادونو ته استوي. مارکس د کپیتال د دریمې برخې په ۶۹ مخ کې وائي دا چې پانګه بهر ته لېږدول کېږي علت یې دا نه دی چې پانګه مطلقاً هیواد دننه فعالیت نشي کولای بلکې د لېږد علت یې دا دی چې پانګه په بهر کې د ګټې په لوړ نرخ سره فعالیت کولای شي.)

سړي ووېل: ( د پانګې لېږد څنګه صورت مومې؟)

مرغه ووېل: (لوی پانګوال په دوه لارو پانګه لېږدوي. یو دا چې یاده پانګه د نورو هیوادونو پانګوالو ته په قرض ورکوي دویم دا چې نورو هیوادونو کې لویې کارخانې جوړوي، بانکونه، لوی صنعتي او سوداګریز مرکزونه پرانیزي همدارنګه به دې پانګه نور ډېر کارونه هم کوي.)

سړي ووېل: (آیا هغه هیواد چې بهر ته پانګه لېږدوي نور توکې نه استوي؟)

مرغه ووېل: (ولې نه! سره له دې چې په امپریالیزم کې د پانګې لېږد زیاد ارزښت لري، خو دا امر د نورو توکو د لېږد څخه ممانعت نه کوي. اتفاقاً د پانګې لېږد د توکو لېږد لا نور هوسا کوي. د بېلګې په توګه کله چې یو امپریالیستي هیواد د بل هیواد پانګه په قرض ورکوي(یاني په دې ډول خپله پانګه لېږدوي/خارجوي هغه هیواد مجبوروي چې خپل توکي له هغه هیواده چې قرض یې ترې اخیستی، وپېري.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي وويل: ( فکر نه کوئ چې په وروسته هيوادونو کې د کارخانو، صنعتي شرکتونو او نورو جوړول به ښه کار وي؟)

مرغه وويل: (کله چې پانګوال خپله پانګه بهر ته استوي، د وروسته پاته هيوادونو د خلکو تېرايستلو لپاره وائي: موږ په جهان کې د صنعت ودې ته لېواله، ومولېدل چې دلته صنعت نشته او خلک بد ژوند لري، زموږ زړه وسوځېده او راغلو چې مرسته وکړو! خو په واقعيت کې هغوی د هغه هيواد د ثروت، پانګې او تر ټولو مهمه د زيارکښانو د کاري ځواک د لوټلو او ډېرې ګټې د خپلولو په موخه بهر ته استوي. که هغوی رېښتيا وائي او غواړي چې نورو هيوادونو سره مرسته وکړي اول د خپل هيواد اړوند فکر وکړي چې خلک يې د صنعت د هغه پرمختګ سره د بې وزلۍ او لوږې سره مخ او ژوند کوي. مالومه ده که هغوی(پانګوالو) دا کار کولای و دومره لويه پانګه به د دوی لاس ته نه ورتله. ځکه دا پانګه د همدې بې وزلو خلکو د کاري ځواک او پانګې د لوټلو پوسيله د دوی لاسته ورغلې ده.)



سړي وويل :( غواړم پوه شم چې د لومړي ځل لپاره کوم هيواد خپله پانګه بهر ته ولېږدوله؟)

مرغه وويل: (۱۸۰ کاله وړاندې د لومړي ځل لپاره انګلستان پانګه بهر ته ولېږدوله چې ۱۰ کاله وروسته بيا فرانسې هم خپله پانګه بهر ته واستوله.)

سړي وويل: (آيا بهر ته د پانګې لېږد، د دې لامل نه ګرځي چې امپرياليستي هيوادونه د ښو ځمکو د لاسته راوړلو په موخه په جنګ لاس پورې کړي؟)

مرغه وويل: (سمه پايله چې د پانګې د لېږد څخه تر لاسه کېږي همدا د ښو ځايونو د تر لاسه کولو په موخه جنګ او سيالۍ ده.)


**د لويو امپريالستي هيوادونو د پانګوالو تر منځ د نړۍ وېش**

که چېرته يوه امپرياليستي هيواد شتون درلودای نو يوازې يوه هيواد به په پانګه لېږدوله او د همدې پخاطر به د نړۍ د وېش پر سره هيڅ جنګ نه کېدای. خو دا چې امپرياليستي هيوادونه له يوه څخه ډېر دي او هر يو يې غواړي چې خپله اضافي پانګه چې خپل هيواد کې يې په کار نشي اچولای، بهر ته ولېږدوي. همدا ده چې د نړۍ د وېش مسله رامنځته کېږي. وړاندې مو وويل: ستر پانګوال چې د هيواد ډېرې توليد د هغو پوسيله کېږي خپلو منځو کې يې تړونونه وکړل چې د هغو تړونو له مخې د هيواد داخلي بازارونه د دوی تر منځ تقسيم شول.، د توکو بيه ټاکل کېده، د توکو مقدار چې هر پانګوال يې بايد توليد کړي مخکې له مخکې ټاکل کېده، خام مواد وړکول کېدل او داسې نور. دا تړونونه له کارتل. سنديکا او ټراستونو څخه عبارت ول. ياد تړونونه هيواد دننه د پانګوالو تر منځ ترسره کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی په دې شکل سره خپل منځي سیالي له منځه یووړه او ورو پانګوالو ته چې هغوی دم ګړی د سیالۍ غوښتونکي ول کلکه ضربه ورکړه.

کارتلونه او سندیکاوې د دې لامل شوې چې تولید د لږ شمېر کسانو لاس ته ورشي. یاني تولید انحصاري شي. دې تړونو انحصارات رامنځته کړل او دا چې دا انحصارات یوازې هیواد دننه ول د داخلي انحصاراتو په نوم یاد شول. خواوس چې څو هیواده د سترو اضافي پانګو لرونکي دي او غواړي چې دا پانګې بهر ته ولېږدي باید خپلو منځو کې تړونونه وکښي او د هغو په اساس د نړۍ بازارونه خپلو کې سره ووېشي. د توکو بیه وټاکي او داسې نور. دې تړونونو ته نړیوال کارتلونه او سندیکاوې ویل کېږي. په دې ترتیب سره امپریالیستي هیوادونه نړیوال انحصارات رامنځته کوي. دا چې دا تړونونه د یوه هیواد د سترو پانګوالو تر منځ نه دي تر څو داخلي انحصار رامنځته کړي،



بلکې د څو هیوادونو د سترو پانګوالو تر منځ دي. په دې اساس کله چې څو امپریالیست هیوادونه وغواړي خپله اضافي پانګه بهر ته ولېږدوي، د څو هیوادونو تر منځ تړونونه لاسلیکېږي. او د دې جهاني تړونونو پوسیله جهاني انحصارات په وجود راځي. هغه څه چې مالوم دي دا دي چې امپریالیستي هیوادونه هر یو غواړي چې ډېر او ښه بازارونه خپل کړي او د همدې مسلې په سره د هغو تر منځ مبارزه پیلېږي. خو دا مسله هم همداسې حلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا چې څټ غټ او او زور يې ډېر وي ډېره برخه خپلوي. د څټ غټوالی د هر امپرياليستي هيواد د اضافي پانګې مقدار پورې تړاو لري.

لنډه دا چې نړۍ همداسې د امپرياليستي هيوادونو تر منځ ووېشل شوه. اوس يو څه درته وايم چې وبخاندې او هغه دا هغوی چې ټوله نړۍ پخپلو کې دتړونونو په اساس سره وېشلي وه ، ويل به يې چې مونږ د دې لپاره چې نړۍ د جنګ لور ته لاړه نشي دا تړونونه ياني کارتلونه، سنديکاوې او ټراستونه رامنځته او نړې مو خپلو کې سره ووېشله!

رېښتيا هم چې خندوونکې ده. دوی فکر کوي چې جنګ يوازې او يوازې د څو امپرياليستي هيوادونو تر منځ کېږي. ښه، دا سمه ده چې امپرياليستي هيوادونه ټول د لويو اضافي پانګو خاوندان دي او که د هغو تر منځ سازش ونشي نړۍ به د جنګ لور ته وخوځول شي. سره له دې هم ياد سازش[د نړۍ وېش] د جنګ مخه نشي نيولای. ځکه اول خو دا سازش لنډ مهاله دی. دويم دا چې جنګ هغه وخت له منځه ځي چې نړۍ کې پانګواله طبقه له منځه لاړ شي ياني دا چې ټول ورته ژوند ولري. نه دا چې يو شمېر پانګوال د نړې ټول ثروت راټول، د هر څه لرونکې او ښه ژوند ولري او نور خلک په ځانګړې ډول کارګره طبقه چې د هغوی لپاره کار وکړي او خپل ژوند کې يوازې له زنځيرونو او زولنو څخه چې پانګوالو د دوی لاسونو او پښو ته وراچولي، ولري...

بايد ووايم چې په واقعيت کې دوه ډوله جنګ وجود لري؛ يو امپرياليستي او نيواککر جنګونه او بل هم عادلانه او آزادئ بښونکې جنګونه دي. چې په دې جنګونو کې زيارکښان د پانګوالو د رنځيرونو څخه د خلاصون په موخه مبارزه کوي. امپرياليستي جنګونه د نړۍ د پانګوالو تر منځ تر سره کېږي چې د خپلو ګټو په موخه نړۍ په سرو وينو کې لمبوي؛ خو عادلانه او آزادۍ بښونکې جنګونه د کارګرې طبقې په مشرتابه د زيارکښانو او پانګوالو تر منځ دي، چې د نړۍ پانګوالو ته وژونکې ضربې ورکوي.

هغه څه چې دا جنګونه د نړۍ خلکو ته په ډالۍ کې ورکوي، بې وزلي، لوږه او ناروغي ده. له ياده بايد ونه باسو چې امپرياليستي جنګونه د امپرياليستانو لپاره هم مضر او هم ضرر رسوونکې دي. د دې جنګونو په نتيجه کې کارګران او ټول زيارايستونکي - د لوږې او بې روزګارۍ تر سخت فشار لاندې به راشي- لا ډېره پوهه تر لاسه کوي. سره له دې چې خپله امپرياليستي هيوادونه په جنګ کې ښکېل دي، په هغو هيوادونو کې چې د دوی په ولکه کې دي د اسارت او زبېښاک زنځير يې شرېږي نو هغه ده چې د دې هيوادونو خلک دا فرصت غنيمت ګڼي او په آزادۍ بښونکو جګړو لاس پورې کوي تر څو د امپرياليزم زنځيرونه وشلوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي وويل: (پوهېږی؟ د تولید اوزار ورځ تر بلې وده مومي. پانګوال هیوادونه هره ورځ رشد کوي. خامو موادو ته د امپریالیستي هیوادونو اړتیا ورځ تر بلې ډېرېږي. د بېلګې په توګه د یوه امپریالیستي هیواد څو ستر پانګوال په نظر کې ونیسئ چې په څو هیوادونو کې د ټوکر جوړوني فابریکې لري. پوهېږو چې هره ورځ د دوی پانګه ډېرېږي. نو په دې اساس د دوی کارخاني د وخت په تېرېدو سره ډېرو خامو موادو ته اړمن کېږي. ښه؛ د ټوکر جوړوني لومړني خام مواد څه دي؟ پنبه. نو د دې پانګوالو د ټوکر جوړونې فابریکې ورځ تر بلې ډېري پنبې ته اړمن کېږي. همدارنګه د نورو هیوادونو پانګوال هم چې د ټوکر جوړوني فابریکې لري ډېري پنبې ته اړتیا پیدا کوي. دا چې هغوی هم رشد کړي او پانګه یې ډېرېږي. همدا ده چې نړۍ کې د ټوکر جوړوني فابریکو خاوندان د خامو لومړنیو موادو د لاسته راوړلو په موخه په مبارزه لاس پورې کوي... ما یوازې د ټوکر جوړوني فابریکې مثال ورکړ خو کولای شو چې دا مثال د صنعت ټولو رشتو اړوند ورکړو. له بل لورې، د وخت په تېرېدو سره هغه هیوادونه چې د ودې دې کچې ته لا نه ؤ رسېدلي چې وکولای شي خپله پانګه بهر ته ولېږدوي، اوس یې وده کړې او خپله په یوه امپریالیستي ځواک اوښتي او غواړي چې خپله اضافي پانګه بهر ته ولېږدوي. نو غواړي چې د نړۍ بیا وېش پیل کړي تر څو دوی ته هم یوه برخه ورسېږي.

همداسې کېږي، کله چې دنړۍ په وېش کې چې د یوه هیواد اضافي پانګه له نورو کمه وي او لږه برخه ورسېږي خو کله چې ځواکمنېږي او ډېرۍ پانګه په لاس راوړي،په داسې وخت کې بیا غواړي چې نړۍ له سره وویشل شي. دا چې د پخواني وېش له مخې نسبت و نورو هیوادونو ته ضعیفه ؤ نو لږه برخه یې په نصیب شوې ده. هو دا ټول د دې لامل ګرځي چې نړۍ په وینو ولمبول شي.

په دې جګړو کې پانګوال د جنګ په بهانه کارکران له حده زیات په کار ګماري تر څو پرلپسې وسله، فشنګ، مهمات، کالي او جنګي وسائل تولید کړي.

سړي وویل: ( کله چې د نړۍ د وېش په سر جنګ ترسره کېږي، هغوی خلکو ته څه وائي؟)

مرغه وويل( هغوی د خلکو د غولولو په موخه او د دې لپاره چې سرتېري جنګ ته واستوي وائي چې د هیواد د فاع لپاره مبارزه کوو. یا هم وائي چې فلانکې هیواد په فلانکې هیواد حمله کړې نو موږ باید له فلانکې هیواد څخه ملاتړ وکړو او داسې نورې برغزي او بابولالې)

سړي وويل:( اوس متوجه شوم چې تر څو پانګوال سیستم له منځه لاړ نشي سوله نشي راتلای)

مرغه وويل: ( امپریالیستي هیوادونه د ډېرو او ښو ځایونو/هیوادونو/ځمکو د لاسته راوړلو په موخه لوی وحشي جنګونه رامنځته کوي. د خندا وړ خو لا دا ده: کله چې طبقاتي تضاد او ځناوړ ډوله استثمار موجود وي، د سولې او آرامي خبري وکړو.

هو کرانه دوسته تر څو چې پانګوال سیستم برقراره وي، طبقاتي تضاد، بې وزلي او لوږه به ورسره وي او امپریالیستي هیوادونه به د مستعمره او نیمه مستعمره هیوادونو د لاسته راړول په موخه ډېر نور خونړي جنګونه په لار واچوي.)

سړي وويل:(مستعمره او نیمه مستعمره یاني څه؟)

مرغه وويل:(مستعمره هغه هیواد ته ویل کېږي چې مستقیماً د امپریالیستي هیوادونو پانګوالو په لاس کې وي. هغه هیواد چې مستعمره وي هیڅ استقلال نلري، تر دې چې امپریالیسم یادو هیوادونو ته په علني ډول خپل نظامي ځواکونه هم استوي. خو نیمه مستعمره هیوادونه بیا هغه دي چې په اصطلاح ظاهراً د استقلال لرونکي دي؛ یاني له ځانه یو شاه یا ولس مشر لري خو د سیاسي او اقتصادي اړخه په امپریالیزم پوري تړلي وي. چې خپل خواړاکي، پوښاک او صنعتي لوازم له هغه هیواده چې دی پرې تړلی دی وارد کړي. پاتي دې نه وي چې په نیمه مستعمره هیواد کې شاه یا ولسمشر د امپریالیزم لاس پوڅی او نوکر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امپریالیستي هیوادونو پانګوال په نیمه مستعمره هیوادونو کې پانګه اچونه کوي او د داخلي پانګوالو په مرسته یاني په واقعیت کې د خپلو نوکرانو په مرسته هغه هیواد لوټوي او د نظامي کارپوه یا نظامي مشاورو او نورو په نامه یې نیمه مستعمره هیوادونو ته استوي.)



سرې وویل:(پوهېږم چې نور سترې شوی یې او غواړې چې لاړ شې. خو مخکې له دې باید ووایم د هغه څه چې تا د امپریالیزم په اړه وویل؟؟؟؟ځکه امپریالیستان دومره پیاوړي او زور یې دومره ډېر دی چې هیڅکله به کارګران ونه توانېږي هغوی نابود کړي.)

مرغه وویل:( ما داسې څه نه دی ویلي. ما وویل چې کله پانګولې امپریالیزم ته ورسېږي نور یې ورکاوی حتمي دی. ما وویل چې امپریالیزم د پانګولې وروستی پړاو دی.)

سرې وویل: (په همدومره ساده ګۍ سره؟)

مرغه وویل: (نه بابا! ګوره، زه څو پوښتني مطرح کوم، ته ځواب راکړه.)

د امپریالیستي هیوادونو ځواک په څه کې دی؟

سرې وویل: (په اضافي پانګه کې.)

مرغه وویل: (اضافي پانګه څه ده؟)

سرې وویل: (هغه خو مالومه ده نو، کله چې ستر پانګوال خپل هیواد کې د کارګرانو د زبېښاک څخه لویه پانګه تر لاسه کوي ځکه خو یوه برخه یې پخپل هیواد کې او پاتي برخه چې اضافي ده بهر ته استوي.)

مرغه وویل: (دا پانګه له کومه راغلي.)

سرې وویل: (د کاګرانو له زیاره.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه وویل: (اضافي پانګه هم چې کله ېهر ته ولېږدول شوه، د کارګرانو د زیار پوسیله ورځ تر بلی ډېرېږي. دا سمه ده؟)

سړي وویل: (هو.)

مرغه وویل: (نو له همدې امله دا کارګران دي چې د هغوی د لاسي تناکو په نیتجه کې پانګوال ځواکمنېږي خو که کارګران پوه شي نور به هغوی ځواکمن نه وي.)

سړي وویل: (خو تا وویل چې فوځ او پولیس د امپریالیزم په خدمت کې دي. هغوی ټانګ، ټوپک، بمب او داسي نور ګڼ جنګي اوزار لري.)

مرغه وویل: (ټانک څوک جوړوي؟)

سړي وویل: (کارګر)

الوکی وویل: (ټوپک څوک جوړوي؟)

سړي وویل: (کارګر.)



(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه وویل: (بمب، فانتوم او نور هم کارګران جوړوي. په هر څه چې ګوته کېږدې هغه کارګر جوړ کړي. وینی یې؟ پانګوال پرته له کارګره ورکېږي. ښه نو که چېرته کارګران د خپلو تولو رنځونو علت وموسي ، که هغوی وپوهېږي چې څومره یوه ښکلی نړۍ ورته په تمه ده، که هغوی وپوهېږي چې د جنګونو علت چې ټولی نړۍ ته یې اور ورته کړ او په وینو یې ولمبوله او میلیونونه خلک یې ووژل د نړۍ د وېش په سر د امپریالیستي هیوادونو تر منځ د شته اختلاف له امله دي. که هغوی دبې وزلي، بې روزګارۍ او نورو په علت پوه شي، کارخانې به پرېږدي او د امپریالیزم که روښانه یې وواېو د پانګوال شړیدلي سیستم په وړاندي به راپورته او مبارزه پیل کړي. کله چې کارګران کارخانی پرېږدي، هغه له کاره لوېږي او ځای په ځای درېږي. او کله چې کارخانې ودرېدی یاني پانګه له کاره ولوېده او کله چې پانګه په ځای ودرېږي او له کاره ولوېږي پانګوال به ورځ تر بلی کمزوري چې بیا نشي کولای دکارګرانو په وړاندي مقاومت وکړي او په پای کې به له ماتي سره مخ شي.)

سړي وویل: (هغه څه چې لا تر اوسه هم ماته لا ینحله دي هغه دا دي چې: ته ولي وایی چې امپریالیزم د پانګولۍ وروستۍمرحله ده؟)

مرغه وویل: (ډېر علتونه لري.)

۱-کله چې پانګولۍ خپلی وروستنۍ مرحلې امپریالیزم په لور ګام اخلي، د امپریالیستي هیوادونو پانګوال ګڼ هیوادونه تر ولکې لاندي راولي. دا هیوادونه د مستعمرې یا نیمه مستعمرې په شکل اوړي. د دې هیوادونو خلک له بزګرانو نیولی تر کارګرانو پوری په وحشي بڼه استثمارېږي. د هغوی هر کوچنی غبرګون د ټوپک پوسیله ځوابېږي. د هغوی ټول ثروت د مس له معدنه نیولی تر سروزرو او نفتو پوری ټول لوټل کېږي. او په بدل کې یې لږ څه خرافات ورکول کېږي تر څو زېبښاکګر په آرامه سره خپل استثمار ته دوام ورکړي. ښکاره ده چې په دې هیوادونو کې بې وزله، بې کاري، لوږه او مریضي پراختیا مومې او په نتیجه کې د امپریالیزم په وړاندي چې د پانګولۍ وروستني مرحله ده دخلکو کرکه او دوښمني زېږي او د مبارزې غوښتنه پکې پیدا کېږي.

۲-کله چې د نړیوالو بازارونو او خامو موادو په وړاندي د امپریالیستي هیوادونو دښمني تر جنګه ورسي، دا جنګونه په کارګري طبقې د بې روزګارۍ او لوږي فشار لا هم ډېروي. امپریالیستي جنګونه کارګران هوښیاروي او د نړۍ په کچه د کارګري انقلابونو د ډېرېدو لامل ګرځي. د بېلګی په توګه د لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته چې د آلمان لخوا د نړۍ د وېش په سر په وجود راغی، د شوروي ستر انقلاب تر سره شو.

همدارنګه دویم نړیوال جنګ هم کارکراي او امپریالیستي ضد انقلابونو ته لاره هواره کړه. څنګه چې د نړۍ د یو پر څلورمې برخی نفوسو ته امپریالیسم زولنې اچولی وې، وشلولی او وژغورېدل. په کلي ډول امپریالیستي جنګونه تل رامنځته کېږي. که امپریالیستان وغواړي یا ونه غواړي تاریخ په ثبوت سولي چې دا جنګونه د پانګولۍ مرګ رانږدې کوي.

۳-د کارګرانو او پانګوالو تر منځ اختلاف د زېښاک(استثمار) ډېرېدو او د پولیسو پوسیله د ټکونې له امله ډېرېږي چې د پانګوالو په وړاندي د کارګرانو او نورو زیارایستونکو دښمني او کرکه له پخوا لا نوره هم زیاتېږي.د یادو درې واړو اختلافاتو ډېرېدل د دې نښه ده چې نور نو د پانګولۍ عمر پای ته رسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي وويل : (کله چې دا درې اختلافه ډېر او چټک شي، پانګولي به خپل پخپله نابوده شي؟)

مرغه وويل: (مسله دا ده چې د دې اختلافونو ډېرېدل او چټکتيا د پانګولي د ورکاوي او په ځای يې د کارګري حکومتونو د ځای ناستی کيدو په موخه د کارګري انقلابونو د نږدې کېدو او تر سره کېدو نښه ده او يا هم ويلای شوي چې سوسياليزم(د کمونيزم لومړئ مرحله) ده. روښانه ده چې تر څو د کارګرانو په رهبری ټول خلک انقلاب ونکړي، نشي کولای چې خپل هيواد کې د پانګولي ريښې وباسي.)

سړي وويل: (آيا دا شوني ده چې ټول جهان کې يو ځلي/يو دم/ وار د واره پانګوال سيستم د کارګري انقلابونو پوسيله نسکور شي او سوسياليزم يې ځای ناستی شي؟)

مرغه وخندل او بيا يې وويل: (ته لکه چې ډېر وارخطا يې. که داسي څه ممکنه وای نو د لومړي نړيوال جنګ څخه وروسته به چې شوروي کې سوسياليستي انقلاب تر سره شو د ټول جهان ولسونو به د کارګرانو په رهبری د پانګولي د له منځه وړلو په موخه انقلاب ته لاس اچولی وای. کارګري او آزادی بښونکي انقلابونه په پراوېزه ډول د نړئ په مختلفو هيوادونو کې تر سره کېږي.)




سړي وويل: (يوه بله پوښتنه هم لرم چې وروستي پوښته مې ده او هغه دا چې آيا امپرياليزم د علم او صنعت له پرمختګ سره موافق دی او کنه؟)

مرغه وويل: (تر څو چې پانګولي خپلی وروستی مرحلې امپرياليزم ته نه وي رسېدلي او د آزادی سيالی په حالت کې وي هر پانګوال هڅه کوله چې نسبت نورو ته د ده توکي ښه وي تر څو په آرامه او ګرانه بيه يې نظر نورو ته وپلوري. د همدې لپاره د صنايعو له پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره یې مخالفت نه کاو خو څنګه چې پانګولې خپل وروستي پړاو امپریالیزم ته ورسېده لوی پانګوال چې ډېری تولید د دوی لخوا کېده دې پایلې ته ورسېدل چې خپلو کې سره سازش وکړي او د کارتلونو،سندیکاؤ او تراستونو پوسله تولید یوازې ځان پوری وتړي/انحصار کړي. نو کله چې توکو تولید انحصاري شو له هغه وروسته یې پخپله خوښه بیه/قیمت چې څومره د دوی غوښتل هغومره پورته وړله.یاني لکه مخکې مو چې وویل دوی ترون کاوه چې هیڅ یو پانګوال د دې حق نلري چې خپل توکي نظر هغه بل ته ارزانه وپلوري. دا ده چې پانګوال کولای شي د توکو بیه لوړه وساتي د صنعت ودې ته اړتیا نه مومي او د دې لپاره چې د تولیدي اوزارو وده د دوی عمر لنډ نکړي د صنایعو د ودې په وړاندې ودرېږي. نو په همدې اساس امپریالیزم د پرمختګ او ودې په وړاندي لوی خنډ دی. روښانه ده چې هیڅ ځواک نشي کولای د ټولني، علم او صنعت د ودې خنډ وګرځي.



همدا ده چې امپریالیزم د څو سري مار په څېر د مرګ په حال کې دی.)

شاوخوا نیمه شپه وه. الوتکه او سړئ دواړه ستړي شوي ول. مرغه وویل: (هغه څه چې ما د امپریالیزم اړوند وویل هغه بنسټیز مسائل ؤ چې تا په دې اړوند نوری مطالعې ته اماده کړي. نیمه شپه ده. خوب نیولی یې، زه هم بایده ولاړه شم؛ سبا راشه د ځنګله ها خوا د تپې سره ته راشه چې یو زړه وړنکی کتاب امانت درکړم.)

سړی خوښ شو او قول یې ورکړ چې سبا د ځنګه ها خوا ته لاړ شي. هغه ؤ چې یو بل ته یې شپه پخیر وویل ، الوتکه والوته او د شپې په تیارو کې ورکه شوه...

پای...

د امپریالیزم د نابودی په موخه مخ په وړاندي د خلقي – پرولتري انقلاب په لور!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**